لغة البشتو

إدارة أوقاف
صالح عبدالعزيز الراجحي

# د لمانځه زده کړه

ليکنه

داکتر/ عبد الله بن احمد الزيد

ژباړه

عبد النافع ژلال

طبع على نفقة إدارة أوقاف
صالح بن عبدالعزيز الراجحي
غفر الله له ولوالديه ولذريته ولجميع المسلمين
www.rajhiawqaf.org

يهدى ولا يباع

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لمانځه زده کړه

ليکنه

ډاکټر/ عبد الله بن احمد الزيد

ژباړه

عبد النافع زلال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ح وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد، ١٤٢٤هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

الزيد ، عبد الله

تعليم الصلاة. / عبد الله الزيد .- الرياض، ١٤٢٤هـ.

٦٤ ص ، ١٢ × ١٧ سم

ردمك : ٩-٤٤٣-٢٩-٩٩٦٠

( النص باللغة البشتو )

١- الصلاة أ- العنوان

ديوي ٢٥٢,٢ ١٤٢٤/٥٩١٩

رقم الإيداع : ١٤٢٤/٥٩١٩

ردمك : ٩-٤٤٣-٢٩-٩٩٦٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على رسول الله محمد بن عبد الله ﷺ، أما بعد:

له ما څخه څو څو ځلي وغوښتل شو چي دلمانځه په باره کي چي داسلام دوهم رکن دی، یو مختصر او جامع کتاب ولیکم چي دلمانځه په اساسي احکامو باندي مشتمل وي، او نورو ژبو ته دترجمه کولو وړ وي. نو ما تقریباً ټول هغه کتابونه را غونډ* کړل کوم چي دلمانځه په باره کي لیکلي شوي وو، او دا خبره را ته په ډاګه* شوه چي دغه هر کتاب د لمانځه دمختلفو اړخونو* څخه یوه اړخ ته اشاره کړي ده، (مثلا) ځینو کتابونو دلمانځه د اداء کولو طریقه او کیفیت ذکر کړی وو، خو دهغه اهمیت او فضیلت ته به یي اشاره نه وه کړې، او ځینو نورو دهغو اختلافي مسائلو تحقیق کړی وو کوم ته چي یو عام وګړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړۍ مرحله کي اړتيا نلري..

نو ما دا غوره وګڼل* چي دلمانځه هغه مهم مسائل را غونډ کړم چي يو مسلمان ته يي زده کړه او پر ځاى کول حتمي او لازمي دي، او دهري مسئلي سره مي دقران او سنت څخه دليل ذکر کړ، اختلافي او اوږده تفصيلي مسائل مي پريښودل، او دلوستونکي دزياتي استفادي لپاره مي داسي طريقه غوره کړه چي هم مختصره او هم ټولو مسائلو ته شامله وي، او نورو ژبو ته يي ژباړه هم آسانه وي.

له الله ﷻ څخه غواړم چي دا کتاب (دلوستونکو* لپاره) ګټور او داستفادي وړ وګرځوي.

إنه سميع مجيب، والله الموفق،،،

**ډاکټر/عبد الله بن احمد الزيد**

رياض-١/١/١٤١٤هـ

---

**يادونه:** دکومي کلمي په خوا کي چي د ستوری (*) نښه ده، هغه کلمه دکتاب په پاى کي په لست کي مرادفه معنا لري، نو دمرادفي معنی لپاره دي نوموړي لست ته مراجعه وشي. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړنۍ خبري

له پیغمبر ﷺ څخه په صحیح حدیث کي راغلي دي چي فرمايي: «بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الـــزَّكَاةِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ، وَحَجِّ الْبَيْتِ لِمَنْ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً».

تـــرجمه: اسلام په پنځو (بنیادونو) باندي جوړ دی: (یدې) اقرار کول چي بیله الله ﷻ څخه دعبادت وړ او حق معبود* نشته، او محمد ﷺ دالله پیغمبر دی، او لمونـځ کـول، او زکـات ورکـول، او روژه نـیول، او دکعبي شریفي حج کول -دهغه چا لپاره چي هغې ته دتللو وس او توان ولري-.

دا حدیث شریف داسلام پنځه ارکانو تـه شامل دی، او هغه دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی رکن: ددې کلمې ویل (لا إله إلا الله محمد رسول الله):**

ددې کلمې معنی داده: چې بیله یو الله څخه بل هیڅوك دعبادت وړ او حق معبود نشته. نو (لا إله) دټولو هغو معبودانو (خدایانو) نفي کوي چې بیله الله ﷻ څخه یې عبادت کیږي، او (إلا الله) دهغه الله لپاره چې شریك نلري دعبادت اثبات کوي، الله ﷻ فرمایي: ﴿شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ [آل عمران: ١٨]

ترجمه: الله او ملائکو او دعلم خاوندانو پدې شاهدي ادا کړې ده چې بیله الله څخه بل هیڅوك دعبادت وړ او حق معبود* نشته، پداسي حال کي چې (په عدل سره دکائناتو) پالل او تدبیر* (دهغه) په لاس کي دي، نشته بیله الله څخه بل دعبادت وړ معبود*، هغه بنه غالب او بنه حکمت والا دی.

او د (لا إله إلا الله) ویلو، او شاهدي ورکولو کي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دريو شيانو سره اقرار کول دي:

لومړی: د الوهيت توحيد:

او هغه دادی چي يواځي الله جَلَّ جَلَالُهُ د ټولو عبادتونو او بندګۍ مستحق وبلل شي، او په هيڅ ډول دا (عبادتونه) بيله* الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه دبل چا لپاره ونه شي. او دا هغه توحيد دی چي ټول مخلوقات دهغه لپاره پيدا شويدي، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ﴾ [الذاريات: ٥٦]

ترجمه: او ما پيريان او انسانان ندي پيدا کړی مګر ددي لپاره چي (يواځي*) دوی زما عبادت وکړي.

او دهمدي هدف لپاره الله جَلَّ جَلَالُهُ پيغمبران را ليږلي، او کتابونه يې نازل کړي دي، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ﴾ [النحل: ٣٦]

ترجمه: او په تحقيق سره موږ په هر (پخواني) امت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي يو پيغمبر ليږلی وو (چي دوی ته امر وکړي پدې) چي تاسو (يواځي*) دالله عبادت وکړئ، او له باطله معبودانو څخه ځان وساتئ.

او شرك دتوحيد ضد دی، نو کله چي دتوحيد معنی دا شوه: چي يواځي ښايي دالله عبادت وشي، نو بيله* الله نه دبل چا په کمه اندازه عبادت کول هم شرك ګڼل کيږي، نو که څوك په خپل اختيار سره بيله الله نه دبل چا هر ډول عبادت وکړي: مثلا دهغه لپاره لمونځ وکړي، يا روژه ونيسي، يا سوال څني* وکړي، يا نذر ورته ومني، يا کوم څاروی ورته حلال کړي، يا د مړي نه مدد اومرسته وغواړي، او يا داسي نور، نو دا په حقيقت کي* له الله سره شريك نيول دي، او شرك له ټولو نه لويه ګناه ده چي (دمسلمان) ټول نيك اعمال له مينځه* وړي.

دوهم: د ربوبيت توحيد:

او هغه دادی چي انسان پدي اقرار وکړي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يواځـي* الله ﷻ (دمخلوقـاتو) پـيدا كونكـى، روزي وركونكـى، ژونـد ښښونكـى، مـرګ راوسـتونكى، (دكائـناتو) پـالونكى، او داسـمانونو او ځمكو څښتـن دى. او پدي سره اقرار كول دهغه فطرت (تقاضا) ده په كوم چي الله ﷻ مخلوقات پيدا كړيدي، تردې پوري چي په كومو مشركينو كښي چي زموږ پيغمبر محمد ﷺ راليږل شوى وو، هغوى هم پدي توحيد اقرار كاوه او ترينه منكر نه وو، الله ﷻ فرمايي: ﴿قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّـنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ السَّمْعَ والأَبْصَارَ وَمَن يُخْـرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيَّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ الأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ اللّهُ فَقُلْ أَفَلاَ تَتَّقُونَ﴾ [يونس: ۳۱]

ترجمه: (اې پيغمبره مشـركينو ته) ووايه چي څوك تاسو ته له آسمان او ځمكي نه روزي* دركوي؟ او څوك دغوږونو او ستركو مالك دى؟ او څوك ژوندى له مړي نه او مړى له ژوندي څخه راوباسي؟ او څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (ټولو) کارونو تدبير او پالل کوي؟ نو ژر به هغوی ووايي: چي الله (دا ټول کارونه کوي)، نو ورته ووايه چي آيا تاسو (د الله څخه) نه ويريږئ؟.

او له انسانانو نه ډير کم داسي خلك شته چي د ربوبيت له توحيد نه يې په ښکاره انکار کړيدی، او په باطن کي له خپل ځان سره په هغه باندي عقيده لري، خو يوائي* دتکبر او عناد په وجه يې له هغه نه (په ظاهره) انکار کړيدی، لکه څرنګه چي الله ﷻ فرمايي: ﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا﴾ [النمل: ١٤]

ترجمه: او د دغو (آياتونو څخه) دوی دظلم او سرکشۍ د وجهي انکار وکړ، پداسي حال کي چي زړونو يې په هغه يقين او باور درلود.

دريم: د اسماء (نومونو) او صفاتو توحيد:

د اسماء او صفاتو توحيد دادی چي دالله په هغو صفاتو ايمان ولرو چي دخپل ځان لپاره يې ثابت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، او یا پیغمبر ﷺ د الله ﷻ لپاره دغه نومونه او صفتونه ثابت کړي وي، او هغه پداسي شکل سره ثابت کړو چې د الله ﷻ دشان او شوکت سره لائق او مناسب وي، بې لدې چې دهغه په کیفیت او څرنګوالي پوه شو، او یا یې بیان کړو، او بیله دي چې هغه دمخلوقاتو له صفاتو سره مشابه او یو شان وګڼو، او یا یې په اصلي معنی کي تغیر راولو، او یا ورنه انکار وکړو، الله ﷻ فرمایي: ﴿وَلِلّهِ الأَسْمَاء الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا﴾ [الأعراف: ۱۸۰]

ترجمه: او خاص الله لره ډیر ښه او ښایسته نومونه دي، نو (الله ﷻ) په هغو (نومونو) سره وبولئ.

او الله ﷻ فرمایي: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ﴾ [الشورى: ۱۱]

ترجمه: دالله په شان* او څېر بل هیڅ شی نشته، او هم هغه ښه اوریدونکی او ښه لیدونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په (لا إله إلا الله) ویلو کې ددې (پورتنیو) دریو شیانو اعلان او په هغو اقرار دي، نو هغه څوك چې (لا إله إلا الله) په خوله سره ووايي او په معنى يې پوه شي، او دهغې مطابق عمل وکړي، يعني الله ته شريك پيدا نکړي، او يوائې هغه دعبادت لائق وبولي، نو دا (سړی) حقيقي مسلمان دی، او هغه څوك چې دغه کلمه په خوله سره ووايي، او دهغې مطابق په ظاهره سره عمل وکړي، خو په زړه کې په هغې عقيده ونلري، نو دا (سړی) منافق دی، او هغه څوك چې دغه کلمه په خوله ووايي، او دهغې په خلاف عمل وکړي، نو دا (سړی) کافر دی، که څه هم دا کلمه په وارو* وارو ووايي (بيا هم مسلمان نه بلل کيږي).

او په (محمد رسول الله) باندې شهادت* ویلو معنى داده: چې په هغه دين او رسالت باندې ایمان راوړو کوم چې محمد ﷺ دالله جَلَّ جَلَالُهُ له جانبه مور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړی دی، او په کومو چې یې امر کړی دهغه اطاعت وشي، او له کومو شیانو نه چې یې منع کړیده له هغو نه ډډه وکړي شي، او دا چې (دمسلمان) ټول اعمال او عبادتونه به دپیغمبر ﷺ دشریعت او سنت مطابق وي، لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿لَقَدْ جَاءكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَّحِيمٌ﴾ [التوبة: ۱۲۸]

ترجمه: په رښتیا سره (ای مسلمانانو) تاسو ته ستاسو له جنس څخه پیغمبر راغلی دی، چې ډیر سخت او درونـد دی پر ده باندي هغه څه چې تاسو ته تکلیف رسوي، (او) په تاسو باندي ډیر حرصناك دی، (او) پر مومنانو باندي مشفق او مهربان دی.

او فرمايي: ﴿مَّنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّهَ﴾ [النساء: ۸۰]

ترجمه: څوك چې دپیغمبر ﷺ اطاعت کوي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



(په حقیقت سره) هغه دالله ﷻ اطاعت کړی دی.

او فرمايي: ﴿وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ [آل عمران: ۱۳۲]

ترجمه: او دالله او د(هغه) دپيغمبر اطاعت وکړئ (حکم ومنئ)، ددې لپاره چې په تاسو رحم وشي.

او فرمايي: ﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ [الفتح: ۲۹]

ترجمه: محمد دالله ﷻ پيغمبر دی، او هغه کسان (صحابهٔ کرام) چې لده سره دي (هغوی) پر کفارو سختګیر، او په خپلو مینځونو کي مهربان او زړه سواندي دي.

**دوهم او دریم رکن: لمونځ کول، او زکات ورکول:**

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلاّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاء وَيُقِيمُوا الصَّلاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ﴾ [البينة: ٥]

ترجمه: او دوی ته امر ندی کړي شوی مګر پدي (خبره) چي يواځي دالله ﷻ عبادت وکړي، پداسي حال کي چي عبادت به يې خاص (الله) لره وي، او له باطل نه به حق ته راګرځيدونکی او مايل وي، او لمونځ دي اداء کړي، او زکات دي ورکړي، او همدا (امر کړي شوي کارونه) محکم* او کلك دين دی.

او فرمايي: ﴿وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ﴾ [البقرة: ٤٣]

ترجمه: او لمونځ بنه اداء کړئ، او زکات ورکړئ، او له رکوع کونکو سره رکوع وکړئ (يعني له لمونځ کونکو سره لمونځ وکړئ).

او لمونځ هغه رکن دی چي موږ به په راتلونکو صفحو کي دهغه احکام بيان کړو.

او زکات هغه (معينه اندازه مال) دی چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـالدارو خلکـو* د مـالونو څخـه اخيسـتل کـيږي او فقـيرانو او نـورو د زکـات مسـتحقو کسـانو تـه ورکـول کـيږي، او هغـه د اسلام دارکانو څخه يو لوی رکن دی، چـي پـه هغـه سـره اجتماعـي لاسنيونه* او دافـرادو پـه مينـځ کـي يـو لـه بـل سـره مرسته او تعاون کول مينځ ته راځـي، او پدي شـکل سـره يـې فقـير او محـتاج لـره پـه مـالدار سـړي بـاندي دا حـق ګرځولی دی چـي بيله کوم احسان او منت نه (ورته زکات ورکړي).

**څلورم رکن: د رمضان دمياشتي روژه:**

الله ﷻ فـرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّـيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾

[البقرة: ۱۸۳]

تـرجمه: اې مومـنانو پـه تاسـو بـاندي روژه فـرض كـړې شويده، لكه څنګه چي پـه هغو كسانو فرض كړې شوې وه چي لـه تاسو نـه مخكي وه (يعني پر مخكيني امتونو باندي)، تر څو (له الله نه) وويريږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم رکن: حج کول دهغه چا لپاره چي د تلو راتلو طاقت* او قدرت يي ولري:**

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ الله غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ﴾ [آل عمران: ۹۷]

ترجمه: او الله تعالى لره پر خلکو* باندي دبيت الله حج کول (فرض) دي دهغه چا لپاره چي هغې ته دتلو راتلو طاقت* او قدرت ولري، او څوك چي كافر شو (ويې نه مانه دغه حكم) نو بيشكه الله د ټول عالم نه بې پرواه دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلمانځه اهمیت*

له مخکینیو خبرو څخه څرګنده* شوه چې لمونځ په اسلام کې لوی ارزښت* او مقام لري، او هغه داسلام دارکانو څخه دوهم داسې رکن دی چې بیله هغه داداء کولو نه (دچا) اسلام نشي صحیح کیدای، او د لمانځه په باره کې سستي او بې پروایي کول دمنافقینو له صفاتو څخه شمیرل کیږي، او (په مکمل ډول سره) پریښودل یې کفر او ګمراهي ده، چې په هغه سره انسان داسلام له دایرې نه وزي، لکه څنګه چې پیغمبر ﷺ په صحیح حدیث کې فرمایي: «بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ تَرْكُ الصَّلاةِ».

ترجمه: دسړي او د کفر او شرك په مینځ کې (جلاکونکې حد) دلمانځه پریښودل دي. او فرمایي: «الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ الصَّلاةُ، فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ»، ترجمه: کوم عهد او پیمان چې زموږ او ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(کافرانو) تر مینځ دی هغه لمونځ دی، چا چي هغه پرېښود نو په رښتیا سره هغه کافر دی. (دا حدیث ترمذي روایت کړیدی، او هغه يي حَسَن بللی دی).

لمونځ د اسلام بنیاد او اساس دی، او هغه د الله ﷻ او بنده په مینځ کي رابطه ده، لکه څنګه چي پیغمبر ﷺ په صحیح حدیث کي فرمايي: «إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى يُنَاجِيْ رَبَّهُ».

ترجمه: کله چي له تاسو نه يو تن لمونځ کوي نو هغه د خپل خدای سره راز او نیاز* کوي. او لمونځ د الله ﷻ سره د بنده د محبت لړلو، او د هغه د نعمتونو د قدر کولو علامه او نښانه ده، او د دې وجي نه چي لمونځ لوی ارزښت او فضیلت لري، نو ځکه خو له ټولو نه اولینه فریضه ده چي پر پیغمبر ﷺ باندي فرض شويده، او لمونځ پدي امت باندي د معراج په شپه په اسمان کي فرض شوی دی، او چي کله له پیغمبر ﷺ نه پوښتنه* وشوه چي له ټولو نه غوره*

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمل کوم دی؟ هغه وفرمایل: «الصَّلاةُ عَلَى وَقْتِهَا»، یعني: لمونځ کول په خپل وقت کي. (دا حدیث بخاري او مسلم روایت کړی دی).

او الله ﷻ لمونځ دګناهونو دپاکیدلو سبب ګرځولی دی، پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهْراً بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ، هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِه شَيْءٌ؟» قَالُوا: لا يَبْقَى مِنْ دَرَنِه شَيْءٌ، قَالَ: «فَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا»؟

ترجمه: آیا تاسو ته معلومه ده که له تاسو نه دیو کس دکور ددروازې مخي ته یوه ویاله* وي او هره ورځ په هغه کي پنځه ځله ولامبي*، نو ایا دده (په بدن) کي به څه خیري* پاتي شي؟ (صحابه وو ﷺ) وویل: نه، هیڅ خیري* به پاتي نشي، (پیغمبر ﷺ) وفرمایل: نو دا (په ورځ کي) دپنځو لمونځونو مثال دی، چي الله ﷻ دهغه په وجه (دلمونځ کونکي) ګناهونه بخښي. (دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



حديث بخاري او مسلم روايت کړيدی).

او په حديث کي له پيغمبر ﷺ نه راغلي دي: چي هغه کله لدي دنيا نه رحلت کاوه، اخيري وصيت او اخيرنۍ خبره يي داوه: «چي دلمانځه په باره کي، او دهغو (مريانو*) په باره کي چي ستاسو تر لاس لاندي دي، له الله نه وويرېږئ». (دا حديث احمد او نسائي او ابن ماجه روايت کړی دی).

الله جَلَّجَلَالُهُ په قرآن کريم کي دلمانځه او لمونځ کونکو ډير لوی فضيلت او شرف ذکر کړی دی، له ټولو طاعتونو او عبادتونو نه يې دلمانځه زياته يادونه کړيده، او دهغه په باره کي يي خصوصي توصيه کړيده، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايي: ﴿حَافِظُواْ عَلَى الصَّلَوَاتِ والصَّلاَةِ الْوُسْطَى وَقُومُواْ لِلّهِ قَانِتِينَ﴾ [البقرة: ۲۳۸]

ترجمه: پر (ټولو) لمونځونو باندي محافظت وکړی، او (په خاصه توګه) په مينځني (مازديګر) لمونځ باندي، او (په لمانځه کي) الله ته په ويره (او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادب) سره ودرېږي.

او فرمايي: ﴿وَأَقِــمِ الصَّــلاَةَ إِنَّ الصَّلاَةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ﴾ [العنكبوت: ٤٥]

تــرجمه: او لمونــځ بنــه اداء کــړی، پــه رښتــيا ســره لمونـځ (انسـان) لـه بي حيايي او بدو کارونو څخه منع کوي.

او فرمايي: ﴿يَــا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ [البقرة: ١٥٣]

تـرجمه: ای مومـنانو (لـه الله نـه) پـه صـبر او لمونـځ کولـو سره مدد وغواړی، په رښتيا سره چي الله له صبر کونکو سره دی.

او فرمايـي: ﴿إِنَّ الصَّلاَةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا﴾ [النساء: ١٠٣]

ترجمه: پـه تحقـيق سـره لمونـځ پـر مومـنانو بـاندي معين او ټاکلی وخت کي فرض دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ دهغه چا لپاره چي لمونځ نکوي (سخت) عذاب واجب کړی دی، الله ﷻ فرمايي: ﴿فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلاَةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا﴾ [مريم: ٥٩]

ترجمه: نو وروسته لدوی نه داسي خليفګان* راغلل چي لمونځ يي ضايع کړ (او نه يي اداء کاوه) او په شهوتونو پسي لاړل، نو دوی به (ژر) له بد عاقبت سره (په دوږخ کي) مخامخ شي.

او الله ﷻ په خپل مبارك کتاب (قران) کي ددي خبري بيان کړيدی چي دمجرمانو او ګنهګارانو ودوږخ* ته دداخليدلو اولين سبب دلمانځه پرينبودل دي، هغه فرمايي: ﴿مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ * قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ﴾ [المدثر: ٤٢-٤٣]

ترجمه: (له دوږخيانو* نه به پوښتنه وشي چي) کوم شي تاسو دوږخ ته داخل کړی؟ هغوی به ووايي: چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ له لمونځ کونکو څخه نه وو (نو ځکه دوږخ ته راوستل شوي یو).

او پیغمبر ﷺ فرمایلي دي چي څوك دسهار* او مازدیگر* لمونځ وکړی نو هغه به جنت ته لاړ شي، لکه څنگه چي په صحیح حدیث کي راغلي دي: «مَنْ صَلَّى البَرْدَينِ دَخَلَ الْجَنَّةَ».

ترجمه: څوك چي دسهار او مازدیگر لمونځ وکړی، جنت ته به لاړ شي.

لمونځ په ټولو اسماني ادیانو کي یو عام او ښکاره عبادت دی، چي معنی او مفهوم یي دادی چي (مسلمان) یواځي هغه الله ته تسلیم شي او کامل اطاعت یي وکړي چي هیڅ شریك او ساری* نلري- ، او لمونځ انسانانو ته دتقوی، انکسار، الله ته رجوع کولو، صبر، جهاد، او توکل کولو تربیه* ور کوي، او دا هغه ظاهري عبادت دی چي دلمونځ کونکي په ایمان، او دالله رب العالمین په بندگۍ کي دهغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربښتنولۍ او صداقت دلالت کوي.

نو پر هر مسلمان باندي فرض دي چي په دوامدار شکل سره لمونځونه په خپلو وختونو کي په هغه طريقه سره اداء کړي چي الله ﷻ مشروع کړيده، تر څو پدي توګه دالله ﷻ او د پيغمبر ﷺ اطاعت پر ځای کړي، او دهغه له غضب او دردونکي عذاب څخه ځان وژغوري*.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طهارت يا دلمانځه لپاره پاکوالی

دا طهارت دبدن*، جامو، او دلمانځه دځای پاك ساتلو ته شامل دی.

* دبدن پاکوالی په دوو شيانو سره کيږي:

لومړی: غُسل (ځان مينځل):

چي دجنابت*، حيض، او نفاس نه وروسته کيږي، پداسي شکل سره چي ټول بدن او ويښتان* په اوبو سره دپاکوالي په نيت ومينځي*.

دوهم: اودس کول:

الله ﷻ فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلاةِ فاغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُواْ بِرُؤُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَينِ﴾ [المائدة: ٦]

ترجمه: اې مومنانو کله چي لمانځه ته دولاړيدلو (نيت او اراده) وکړی، نو خپل مخونه، او لاسونه تر څنګلو* پوري ومينځئ، او پر خپلو سرونو باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسح وکړئ، او خپلي پښې* تر بجلکو* (پنډیو) پوري (ومینځئ).

نو دا مبارك ایت په هغو شیانو مشتمل دی دکومو چي مراعات په اودس کولو کي واجب دی، او هغه شیان دادي:

۱- دمخ مینځل دخولي او پوزي ته اوبو اچولو په شمول.

۲- تر څنګلو پوري دلاسونو مینځل*.

۳- دغوږونو په شمول دټول سر مسح کول.

۴- تر بجلکو* پوري دپښو مینځل.

* او دجامو او ځای پاکوالی دادی چي له مرداری او نجاست (ګندګی) نه لکه: تشي بولي*، ډکي بولي* او نورو نجاستونو (ګندګیو) څخه پاك وساتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تیمم وهل

لـه هغـو اسـانتیاوو او سـهولتونو څخه چې الله ﷻ مسـلمانانو تـه ورپـه بـرخه کړیـدي، یـو هـم دادی چـې داوبـو دنشـتوالي په وخت یـا پـه هغـه صـورت کـې چـې داوبـو اسـتعمالول انسـان تـه ضـرر ولـري، هغـه تـه یـې تـیمم وهـل روا کړیـدی. (دتـیمم طـریقه) پداسـي شـکل سـره ده چې لاسونه بـه پـه ځمکـه باندي ووهي او بیا پـه هغـو سره خپل مخ او دواړه لاسونه مسح کړي.

الله ﷻ فـــرمایي: ﴿فَلَمْ تَجِدُواْ مَاء فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُواْ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ﴾ [المائدة: ٦]

تـرجمه: (کـه مـو چـیري اودس یـا غسـل کولـو تـه ضـرورت شـو) او بـیا مـو اوبـه ونـه موندلي* نو پـه پاکـه خـاوره سـره تـیمم وکـړی، (یعنـي دواړه لاسونه پـه ځمکـه ووهـی) او خـپل مخونـه او لاسـونه پـه هغـه سـره مسـح کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمار رضي الله عنه وايي: پيغمبر ﷺ زه په يو كار پسي واستولم، نو ماته جنابت* پيښ شو، او اوبه مي پيدا نكړي، نو (دپاكوالي لپاره) په خاورو كي داسي ولغړيدم* لكه څنګه چي يو حيوان لغړي (او بيا مي لمونځ وكړی)، او بيا پيغمبر ﷺ ته راغلم او قصه مي ورته بيان كړه، نو ويي فرمايل: «إِنَّمَا يَكْفِيكَ أَنْ تَقُولَ بِيَدَيْكَ هَكَذَا» ثُمَّ ضَرَبَ بِيَدَيْهِ الأَرْضَ ضَرْبَةً وَاحِدَةً، ثُمَّ مَسَحَ الشِّمَالَ عَلَى الْيَمِينِ، وَظَاهِرَ كَفَّيْهِ وَوَجْهِهِ.

ترجمه: تا ته دا كافي وه چي لاسونه دي داسي په (ځمكه) وهلي وای، او بيا يي لاسونه يو ځل په ځمكه ووهل، او بيا يي په چپ (لاس) سره ښی (لاس)، او دلاسونو پنجې او خپل مخ مسح كړی. (دا حديث بخاري او مسلم روايت كړيدی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فرض لمونځونه

اسلام پر هر مسلمان باندي په یوه ورځ او شپه کي پـنځه لمونځونـه فـرض کړیـدي، او هغـه: دسـهار، غرمي، مازدیگر، ماښام، او ماسخوتن لمونځونه دي.

۱- دسهار لمونځ:

او هغـه دوه رکعـته دی، او وخـت یـي له دوهمـي سپیدي* (هغـه پـراخه روښنایـي چـي دشـپي لخـوا پـه مشرق کي وي) راختلو څخه تر لمر ختلو پوري دی.

۲- دغرمي لمونځ:

او هغـه څلور رکعـته دی، او وخـت یـي دآسمـان لـه مینځ نـه دلمر له زوال څخـه شروع بیا تـر هغـه پـوري دوام لري چي دهر شي سیوری یو برابر* شي، بیله هغه سیوري نه چي دزوال په وخت کي وي.

۳- دمازدیگر لمونځ:

او هغـه څلور رکعته دی، وخت یي دغرمي دوخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه وتلو نـه شـروع کـيږي تـر هغـه پـوري چـي دهـر شـی سيوری دوه برابره شي، بيله هغه سيوري نه چي دزوال پـه وخـت کـي وي، او دضـرورت وخـت يـي دلمـر تـر لويدلو پوري دی.

۴- دماښام لمونځ:

او هغه دري رکعته دی، او وخت يي دلمر لويدلو* نه تر سره شفق* ورکيدلو پوري دی.

۵- دماسخوتن لمونځ:

او هغـه څـور رکعـته دی، وخـت يي دماښام دوخت لـه ختمـيدلو نـه وروسته بيا دشپي تر دريمي حصي او يا اولي نيمايي حصې پوری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلمانځه اداء کولو طریقه

وروسته لدي نه چي بدن او دلمانځه ځای په تیر شوي کیفیت سره پاك شي، او مسلمان دلمانځه دوخت له داخلیدلو څخه مطمئن شي، نو قبلې (په مکه مکرمه کي بیت الله شریف) ته دي مخ کړي پداسي حال کي چي کوم فرضي او یا نفلي لمونځ کول غواړي، دهغه اراده او نیت به په زړه کي کوي، او بیا به لاندي افعال په ځای کوي:

۱- اول تکبیر (تکبیر تحریمه) «الله اکبر» به وایي، پداسي حال کي چي دسجدي ځای ته به ګوري.

۲- دتکبیر ویلو په وخت کي به خپل لاسونه داوږو برابر او یا دغوږونو دبرابرۍ په اندازه پورته کوي.

۳- د«الله اکبر» وروسته دغه دوعا لوستل سنت ده: «سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَـــدُّكَ، وَلاَ إِلَهَ غَيْرُكَ»(۱)، او که وغواړي دا دوعا دي ووايـي: «اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَّ بَيْنَ الْمَشْــرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الــثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ»(۲).

۴- بـيا بـه وايـي «أَعُــوذُ بَاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ»(۳)، او بـيا بـه «الحمد لله» لولي:

(۱) ترجمه: الهي! تا په پاکي سره يادوم او ستا پوره ستاينه کوم، او مبارك دی نوم ستا، او اوچت دی شان او شوکت ستا، او بيله تا نه بل څوك د عبادت وړ نشته.

(۲) ترجمه: الهي! زما او زما د ګناهونو تر مينځ دومره لري والی راولې، لکه څنګه چي دي د مشرق او مغرب په مينځ کي لري والی راوستی دی، الهي! ما له خپلو ګناهونو نه داسي پاك کړې لکه څنګه چي سپينه جامه له خيرو نه پاکه کړي شي، الهي! ما له ګناهونو نه په واوره، او اوبو، اوږلې سره ووينځې.

(۳) ترجمه: په الله سره د رټل شوي شيطان څخه پناه غواړم، په نامه د الله چي =

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿الْحَمْــدُ لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ * الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ * مَالِكِ يَــوْمِ الدِّينِ * إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ * اهدِنَا الصِّرَاطَ المُســتَقِيمَ * صِــرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَــيهِمْ وَلاَ الضَّــالِّينَ﴾[۱]، او لـدي وروسته به «آمين» وايي.

۵- بيا به له قرآن كريم نه هغه سورت او يا هغه آيتونه لولي چي په ياد يي وي او ورته اسانه وي، لكه دا ســـورت: ﴿إِذَا جَاء نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ * وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُــونَ فِــي دِيــنِ اللَّهِ أَفْوَاجًا * فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

---

ډير زيات مهربان او پوره رحم لرونكى دى شروع كوم.

(۱) ترجمه: ټولي غوره ستاينې يواځي الله تعالى لره دي چي دټول عالم پالونكى دى. ډير زيات مهربان او پوره رحم لرونكى دى. دجزاء دورځي خاوند دى. يواځي ستا عبادت كوو او يواځي له تا څخه مرسته غواړو. مونږ ته سمه لياره وښيـنه. دهغو كسانو لياره چي تا پر هغوى باندي انعام كړى دى، نه دهغو كسانو لياره چي درباندي غضب كړې شوى، او نه دګمراهانو لياره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾[١]، او یا دقرآن کریم بل کوم سورت.

۶- بیا به لدې نه وروسته د «اللهُ أَكْبَر»[٢] په ویلو سره رکوع کوي، پداسې حال کې چې ملا* به یې سیده او برابره وي، او لاسونه به یې پر ځنګنونو* ایښي وي، او «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيم»[٣] به وايي، او درې ځلې* او یا له هغه نه زیات ویل یې سنت دي.

۷- بیا به د «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ»[٤] په ویلو سره له

---

(١) ترجمه: کله چې دالله مرسته او بریالیتوب رارسیږي. او ووینې چې خلك جوپې جوپې د الله په دین کې ننوځي. نو خپل پروردګار په پاکۍ یاد کړه، او له هغه څخه بخښنه وغواړه، بیشکه چې هغه ډیر دتوبې قبلوونکی دی.

(٢) ترجمه: الله ډیر لوی دی.

(٣) ترجمه: پاك دی ځما لوی پروردګار.

(٤) ترجمه: قبول کړه الله (حمد او ثنا) د هغه چا چې د هغه حمد او ثنا یې وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رکوع څخه سر پورته کوي، که امام وي او که يوازي ځانته وي، او له دريدلو وروسته به «رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، حَمْـــداً كَـــثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيهِ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الأَرْضِ، وَمِلْءَ مَا بَيْنَهُمَا، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ»(۱) وايي.

او که مقتدي وو، نو دپورته کيدو په وخت کي به «رَبَّنا وَلَكَ الحمدُ...» تر آخره پوري وايي.

۸- بيا به د «الله أكبر» په ويلو سره سجدي ته ولاړ شي، پداسي حال کي چي متبان* (يا ځنګلي) به يي له بغلونو څخه، او ورنونه* به يي له لينګو* څخه ليري وي، او سجده به پر اوو اندامونو* باندي کوي: تندی

---

(۱) ترجمه: اې زمونږ پروردګاره! تا لره ټوله غوره ستاينه ده، ستاينه ډيره زياته، پاکه، او مبارکه، د آسمانونو او ځمکي او د هغوی تر مينځ د مخلوقاتو د ډکوالي په اندازه، او په اندازه د ډکوالي د هغه شيانو چي تا وروسته غوښتي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پوزې سره، دواړه وُرغوي*، ځنګنونه، دپښو دګوتو شاوې، او «سُبحانَ ربيَ الأعلى»(۱) به درې واره او يا زيات وايي، او چې کومه دوعا يي خوښه وي هغه به زياته لولي.

۹- بيا به د «الله اکبر» په ويلو سره له سجدې څخه سر راپورته کوي، او پر چپه پښه به کښيني، او ښى* پښه به دَرَوي*، او لاسونه به پر ورنونو او ځنګنونو باندې ايږدي، او «رَبِّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي وَاهْدِنِي وَاجْبُرْنِي»(۲) به وايي.

۱۰- بيا به د «الله اکبر» په ويلو سره دوهمه سجده کوي، په کوم ترتيب سره چې يي لومړۍ سجده وکړه،

---

(۱) ترجمه: پاك دى ځما لوى پروردګار.

(۲) ترجمه: الهي! ما ته بخښنه وکړې، او په ما رحم وکړې، او ما ته عافيت راکړې، او روزي را ته راکړې، او هدايت را ته وکړې، او نقصان مي پوره کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پدي ډول سره يې يو رکعت پوره او بشپړ شو.

۱۱- بيا به د «الله اکبر» په ويلو سره دوهم رکعت ته پورته کيږي.

۱۲- بيا به «الحمد لله..» تر آخره پوري وايي، بيا به دقرآن کريم يو سورت وربسي وايي، بيا به رکوع ته ځي، بيا به له رکوع څخه راپورته کيږي، بيا به دوه سجدي کوي، په هماغه ترتيب سره لکه څرنګه چي يي په لومړي رکعت کي وکړ.

۱۳- وروسته لدې نه چي ددوهمي سجدې څخه سر را پورته کړي هماغسي به کښيني لکه ځرنګه چي ددوو سجدو په مينځ کي کښيناستلی* وو، بيا به «التَّحِيَّاتُ لله وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلامُ عَلَينا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ»[۱] ووايي.

(۱) ترجمه: ژبني او بدني او مالي عبادتونه ټول الله لره دي، سلام او د الله =

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیري لمونځ دوه رکعتیز وو لکه د سهار، جمعي، او یا اختر لمونځ نو تر اخره به ناست وي او د «التحیات..» وروسته به «اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»[1] ووایي، او له څلورو شیانو څخه به پناه غواړي او داسي به وايي: «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ

---

رحمت او برکتونه دي وي پر تا اې پیغمبره! سلام دي وي پر مونږ او د الله پر نیکو بندګانو، زه شاهدي ورکوم چي بیله الله نه بل د عبادت وړ معبود* نشته، او شاهدي ورکوم چي محمد د الله بنده او پیغمبر دی.

(۱) ترجمه: الهي! پر محمد او د محمد پر اهل وعیال درود ولیږه، لکه څنګه چي دي پر ابراهیم عليه السلام او د ابراهیم عليه السلام پر اهل و عیال درود لیږلی دی، په رښتیا سره ته ستایلی شوی، د لویي خاوند یې، او برکت نازل کړه پر محمد او د هغه پر اهل وعیال باندي، لکه څنګه چي دي برکت نازل کړی دی پر ابراهیم عليه السلام او د هغه پر اهل وعیال باندي، په رښتیا سره ته ستایل شوی، د لویي خاوند یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ»[١]، او بيا به دخپل ځان لپاره ددنيا او اخرت دخير غوښتلو دوعا کوي، او دا (دوعاګانې او اذکار) په فرضي او نفلي لمونځونو دواړو کې ويل کيږي.

بيا به په «السَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ»[٢] ويلو سره ښي طرف ته سلام ګرځوي، او بيا به په «السَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ» ويلو سره چپ طرف ته سلام ګرځوي.

او که لمونځ دري رکعتيز وي لکه دماښام لمونځ، او يا څلور رکعتيز وي لکه دغرمې، مازديګر، او ماسخوتن لمونځونه، نو د لومړی ناستي له

---

(١) ترجمه: الهي! زه په تا سره پناه غواړم د دوزخ له عذاب څخه، او د قبر له عذاب څخه، او د ژوند او مرګ له فتنو څخه، او د مسيح دجال د فتنې د شر څخه.

(٢) ترجمه: سلام (سلامتيا) او دالله رحمت دي وي پر تاسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«التحـــيات..» نـه وروسـتـه بـه «الله اکبر» ووايـي او وبـه دريـږي، او بـيا بـه «الحمد لله..» يوازي ووايي: او بيا به رکوع او سجده وکړي، لکه څرنګه چي يي په اولو دوو رکعـتونو کـي وکـړه، بـيا به پـه همدا ډول سره څلـورم رکعـت کـوي، ليکـن له سجدي نه وروسته به د «تَوَرُّك» پـه شـکل کښيـنـي، او هغـه داده چـي ښي پښه ودَرَوي، او چـپه پښـه بـه تـر هغـه لاندي کښيـږدي، او کوناټي به پـر ځمکـه کښـيـږدي، او بـيا بـه «التحـــيات..» ووايـي، دمانښـام پـه دريـم رکعـت کـي، او دغرمـي، مازديګر او ماسخوتن په څلورم رکعت کي، او بيا به پر پيغمبر ﷺ بـاندي درود «الـــلهمَّ صَلِّ..» وايـي، او کـه وغـواړي نو دوعـا دي وکـړي، او بـيا بـه ښـي او چـپ طرف ته سلام وګرځوي لکه څرنګه چي مخکي بيان وشو.

او پدي ترتيب سره يي لمونځ پوره او بشپړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جماعت* لمونځ

دجماعت لمونځ په يوازي لمونځ باندي اوويشت درجي زيات فضيلت او غوره والى لري، لکه څرنګه چي له ابن عمر رضي الله عنهما څخه په بخاري کي روايت دى چي پيغمبر ﷺ فرمايي: «لقد همَمْتُ أن آمرَ بالصــلاةِ فتُقامَ ثم أُخالفَ إلى قومٍ في منازلِهم لا يشهدونَ الصلاةَ في جماعةٍ فأُحرقَها عليهم».

تــرجمه: په رښتيا سره چي ما اراده وکړه چي امر وکړم چي لمونځ ودَرَول شي (اقامت وويل شي)، اوبيا زه دهغو کسانو کورونو ته لاړ شم چي دجماعت لمونځ ته نه راځي، او (کورونه يي) ورباندي وسوځوم. (دا حديث بخاري او مسلم روايت کړى دى).

نو که چيري دجماعت لمونځ پريښودل لويه ګناه نه واى، پيغمبر ﷺ به دوى دکورونو په سوځولو سره نه تهديد* کولاى. او الله جَلَّ جَلالُه فرمايي: ﴿وَأَقِيمُواْ الصَّلَاةَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ﴾ [بقرة: ٤٣]

ترجمه: او لمونځ بنسه اداء کړئ، او زکات ورکړئ، او له رکوع کونکو سره رکوع وکړئ (يعني له لمونځ کونکو سره لمونځ وکړئ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دجُمعې لمونځ

اسلام همیشه یووالی او وحدت خوښوي او هغه ته (خلګ) رابولي*، او اختلاف بد ګڼي او له هغه نه کرکه او نفرت کوي، او هیڅ داسي کار نشته چي دمسلمانانو په مینځ کي دیووالي او وحدت درامینځ ته کیدو په لاره کي مثبت رول* ولري، او اسلام (مسلمانان) هغه ته دعوت او تشویق کړي نه وي، او په هغه سره یې امر نه وي کړی.

دجمعې ورځ دمسلمانانو لپاره داختر ورځ ده، چي په هغې کي دالله ﷻ یادونه او تعظیم کوي، او ددنیا له کارونو او مصروفیتونو نه لیري په مسجدونو کي راغونډیږي، ترڅو دالله ﷻ درضا لپاره دهغه له فرائضو څخه یوه مهمه فریضه او وجیبه* په ځای کړي، او دخطیبانو او عالمانو هغه لاربنودونو او ارشاداتو ته غوږ کښیږدي، کوم چي په خطبه کي یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندي کوي، او خطبه هغه اوونيز (هفته وار) درس دی چي خطيب دهغي پواسطې سره اوريدونکي دالله ﷻ توحيد ته رابولـي*، او هغوی ته نوی ژوند ورکوي، او دالله او پيغمبر ﷺ محبت او اطاعت ته چمتووالی يي په زړونو کي بيا تازه کوي، الله ﷻ فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ * فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [الجمعة: ٩-١٠]

ترجمه: ای مومنانو کله چي دجمعي په ورځ د(جمعي) لمانځه لپاره اذان وشي، نو دالله وذکر (لمانځه) ته ورودانګی*، او پلورل* (او پيرودل)* پريږدی، دا ستاسو لپاره ډيره غوره ده که تاسو پوهيدلاست، او چي کله لمونځ اداء شي، نو په ځمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي خواره* شي، او د الله فضل وغواړي، او الله په ډيرو يادوولو سره ياد کړي، ژر دی چي کاميابه به شي.

او دجمعي لمونځ پر هر مسلمان نر او ښځي باندي فرض دی، کله چي بالغ* ازاد او مقيم* وي، او پيغمبر ﷺ هميشه هغه اداء کړی دی، او دهغه چا لپاره يي ډيره سخته سزا ټاکلي ده چي هغه نه اداء کوي، پيغمبر ﷺ فرمايي: «لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ أَو لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ ثُمَّ لَيَكُونَنَّ مِنَ الْغَافِلِينَ».

ترجمه: دجمعي لمونځونو پريښودلو نه دي خلک په کلکه ډډه وکړي، او (که داسي ونکړي نو) الله ﷻ به ددوی په زړونو باندي (دغفلت) مُهر* (ټاپه) لګوي، نو بيا به دغافلانو (ګمراهانو) له جملي نه وي. (دا حديث مسلم روايت کړی دی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



او فرمايي: «مَــنْ تَرَكَ ثَلاثَ جُمَعٍ تَهَاوُناً طَبَعَ اللهُ عَلَى قَلْبِهِ».

ترجمه: څوك چي درې جمعې (لمونځ) دسستۍ او تنبلۍ په وجه پرېږدي، الله ﷻ به دهغه په زړه باندي (دغفلت) مُهر (ټاپه) ولګوي.

دجُمعي لمونځ دوه ركعته دی، چي يو مسلمان به يې په إمام پسي دمسلمانانو سره يوځای په جَمعه كي اداء كوي.

دجُمعي لمونځ بيله جَمعي څخه نه صحيح كيږي، نو مسلمانان به سره يو ځای راغونډيږي، او إمام به دوی ته خطبه وايي او نصيحت او لارښودنه به ورته كوي، او دخطبي په وخت كي خبري كول ناروا دي، ان تردې كه خپل ملګري ته ووايي چي: مَه، يا چوپ شه، نو دا هم بيځايه (او ممنوع) كار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمسافر لمونځ

الله ﷻ فرمايي: ﴿يُرِيدُ اللّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ [البقرة: ١٨٥]

ترجمه: الله ﷻ ستاسو لپاره اسانتيا غواړي، او تاسو ته تکليف نه غواړي.

همدا راز اسلام داسانتيا او سهولت دين دی، او الله ﷻ هر څوك دخپل وس سره سم* مُکلف کوي، او دداسي کار امر ورته نکوي چي په هغه نشي توانيدلای*، او له دې امله چي په سفر کي هم دمشقت او تکليف اتکل دی، نو الله ﷻ په هغه کي دوه شيان داسانتيا لپاره روا کړيدي:

**لومړی: دلمانځه لنډول (قصر کول):**

پداسي ډول سره چي څلور رکعتيز لمونځ به دوه رکعته کوي، نو که چيري ته مسافر وې نو دغرمي، مازديګر او ماسخوتن لمونځ دوه رکعته وکړه، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دماښام او سهار لمونځ په خپل حالت پاتې کیږي یعني په هغې کي قصر نشته.

دلمانځه لنډول دمسلمانانو لپاره دالله ﷻ له طرف نه یوه اسانتیا او رخصت دی، او الله ﷻ داسانه حکمونو (رخصتونو) په ځای کول هماغسي خوښوي لکه څنګه چي دګران حکمونو (عزیمتونو) په ځای کول خوښوي.

دسفر په حکم کي: دموټر*، الوتکي، کښتۍ*، ریل ګاډی، څارویو*، او یا پښو سره سفر کول برابر دي، دې ټولو ته سفر ویلي کیږي، او لمونځ پکښي کي لنډ کیږي، تر څو چي سفر دګناه په مقصد نه وي (چي په هغه کي دلمانځه لنډول روا ندي).

**دوهم: ددوو لمونځونو یوځای کول:**

مسافر ته روا دي چي دوه لمونځونه یو ځای په یوه وخت کي وکړي، نو دغرمي او مازدیګر لمونځونه به یوځای کوي، او همدا رنګه دماښام او ماسخوتن

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځونه به يوځای کوي، او ددوارو لمونځونو وخت به يو کوي، خو دواړه لمونځونه به يوله بل څخه بيل* اداء کيږي، لومړی به د غرمي لمونځ کوي بيا به وروسي سمدستي* دمازديګر لمونځ کوي، يا اول دماښام لمونځ او وروسي به سمدستي دماسخوتن لمونځ کوي.

او ددوو لمونځونو يوځای والی يوازي* او يوازي دغرمي او مازديګر، او دماښام او ماسخوتن په مينځ کي وي، مثلاً دسهار او غرمي، يا دمازديګر او ماښام لمونځونه يوځای کيدلای نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (دلمانځه نه وروسته) مسنونه اذکار (او دعاګاني)

دلمونځ کونکي لپاره سنت دي چي دلمانځه نه وروسته دري ځلي «أستغفر الله» ووايي، او بيا به دا (دعا) وايي: «اللّهُمَّ أنتَ السَّلامُ، ومِنْكَ السّلامُ، تَبارَكْتَ يا ذَاالجَلالِ وَالإِكْرَام، لا إِلَهَ إِلا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللّٰهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ»(۱)، او دري ديرش ځلي به «سُبْحَانَ اللهِ»، «الْحَمْدُ للهِ»، «اللهُ أَكْبَر» وايي، او سل ځلو پوره کولو لپاره به «لا إِلَــهَ إلا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ،

(۱) ترجمه: د ثنا، ستايني او لويي ښبنتن دي، دا وينا ډيره حق ده چه بنده يي کوي (او مونږ ټول ستا بندګان يو) چه اي زما الله څوك منع کوونکي نشته د هغه څه چه ته يي ورکوې، او نه ورکوونکي شته د هغه څه چه ته يي نه ورکوي، او ستا په وړاندي مالدار ته د هغه مال ګټه نه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»[١] وايي.

او (بيا به) آيت الكرسي، «قل هو الله أحد..»، «قل أعوذ برب الفلق..»، او «قل أعوذ برب الناس..» وايي.

او ددغه دريو سورتونو دري ځل ويل دسهار او ماښام دلمانځه څخه وروسته مستحب دي، لکه څرنګه چي دماښام دلمانځه وروسته مستحب دادی چي دمخکيني اذکارو وروسته دا دعا هم لس ځل وواييي: «لا إِلَهَ إِلا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»[٢].

او دا اذکار ويل ټول سنت دي او فرض ندي.

---

(١) ترجمه: بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه يو دی، شريك نلري، هغه لره (دکائناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاينه ده، او هغه پر هر څه قادر دی.

(٢) ترجمه: بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه يو دی، شريك نلري، هغه لره (دکائناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاينه ده، ، ژوند ورکوي، او مرګ راولي، او هغه پر هر څه قادر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دفرضو سره سنت لمونځونه (سنت راتبه)

دهر مسلمان نارینه او ښځي* لپاره سنت دي -که چیري هغه مسافر نه وي- دفرضو څخه پرته ددوولس رکعته لمونځ اهتمام وکړي، او هغه دادي:

څلور رکعته دغرمي دلمانځه څخه مخکي، او دوه رکعته وروسته، او دوه رکعته دماښام دلمانځه څخه وروسته، او دوه رکعته دماسخوتن دلمانځه څخه وروسته، او دوه رکعته دسهار دلمانځه څخه مخکي.

له أُمّ المومنين أُمّ حبيبه رَمْلَه بنت أبي سفيان ﷺ نه روایت دی وایي: دپیغمبر ﷺ نه مي واوریدل چي فرمایي: «مَا منْ عَبْد مُسْلم يُصَلّي لله في كُلّ يَوْم ثنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعاً غَيْرَ الْفَرِيضَة إلاّ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتاً في الْجَنَّة، أَوْ إلاّ بُنيَ لَهُ بَيْتٌ في الْجَنَّة».

ترجمه: هیڅ یو مسلمان بنده به نه وي چي په ورځ کي دفرضو څخه پرته دوولس رکعته بیله فرضو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفل لمونځ وکړي، مګر دا چي الله ﷻ به هغه لره په جنت کي يو کور جوړ کړي، او يا به هغه لره په جنت کي يو کور جوړ شي. (دا حديث مسلم روايت کړی دی).

اما په سفر کي به پيغمبر ﷺ دغرمي، مابنام، او ماسخوتن سنت نکول، خو دسهار سنت، او وتر به يي نه پريښودل، او دپيغمبر ﷺ (طريقه) زموږ لپاره داقتداء او پيروی غوره نمونه ده، الله ﷻ فرمايي: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ [الأحزاب: ٢١]

ترجمه: بيشکه چي دپيغمبر ﷺ (په طريقه او سنتو کي) ستاسو لپاره غوره اقتداء او پيروي ده.

او پيغمبر ﷺ فرمايي: «صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي».

ترجمه: په کوم ډول چي ما ګوری لمونځ کوم، په هماغه ډول لمونځ وکړی.

والله وَلِيّ التوفيق، وصلى الله على محمد وآله وصحبه وسلم،،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلهجي داختلاف په صورت کي يوه معنى لرونکي کلمات

## چي په کتاب کي راغلي دي

| کلمه | معنى |
|---|---|
| اړخونه | طرفونه، جهتونه |
| ارزښت | اهميت |
| اندامونه | اعضاء |
| اهميت | ارزښت |
| بالغ | مړانه وهلى، بلوغ سن ته رسيدلى |
| بجلکه | ښنګرى، دپښي ګيتي |
| بدن | جسم، وجود |
| برخي لرل | شامليدل |
| بيل | جلا، جدا |
| پښي | سپي |
| پلورل | خرڅول |
| پوښتنه | تپوس، سوال |
| پيرودل | رانيول، اخيستل |
| تدبير | تنظيم، پالنه |
| تدبير | اداره، پالنه، کنترول |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| معنی | کلمه |
|---|---|
| وړې بولۍ، میتیازې، بولۍ | تشې بولۍ |
| قدرت لرل | توانیدل |
| فرق | توپیر |
| ویرول، ګواښ ورکول | تهدید |
| په جَمه لمونځ | جماعت لمونځ |
| غُسل اوبنتل | جنابت |
| واري | څلي |
| زنګون، ټکی، ټوټکی | څنګون |
| معلومه | څرګنده |
| ښکاره، ظاهره | څرګنده |
| کیفیت | څرنګوالی |
| لیچه، مټ | څنګل |
| خلق | خلګ |
| هغه کسان چې له تیر شوو کسانو نه نمایندګي کوي | خلیفګان |
| تیت، خپاره | خواره |
| ناپاکي، چټلي | خِیره |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| کلمه | معنی |
|---|---|
| دَرَول | نیغ نیول، ولاړول |
| دوږخ | جهنم، دوزخ |
| دوهم | دویم |
| ډکي بولي | غُل، غتې بولي، دانسان ګندګي او فاضله مواد |
| رابولي | دعوت کوي، غواړي |
| راز ونیاز | دزړه خبري، دسر خبري، دزړه خواله |
| رول | تاثیر |
| ژغورل | نجات ورکول، ساتل |
| ساری | مثل، مانند، همتا، شبیه |
| سپیدې | دسهار رڼایي، دسبا کیدلو علامه |
| سمدستي | ژر، زر، فوراً |
| سهار | سَحَر، سهَر |
| شان | مثل |
| شان او شوکت | عزت او جلال |
| شاهدي | ګواهي |
| شفق | دمابنام په وخت کي داسمان (اُفُق) سرخي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| کلمه | معنی |
|---|---|
| ښی | راسته |
| عناد | دښمني |
| غوره | بهتر، ښه |
| غونډول | ټولول، جمع کول |
| کښیناستل | کیناستل |
| لاسنیونه | یو بل سره کومك کول |
| لامبل | غسل کول |
| لغړیدل | لغښتل، ډډه په ډډه اوړیدل، رغښتل |
| له مینځه وړي | باطله وي، ورکوي |
| لینګی | ساق، دبجلکي او ځنګون تر مینځ حصه |
| مازدیګر | نمازدیګر |
| مټ | داوړې نه تر څنګل پوري حصه |
| محکم | ټینګ، کلك |
| مریان | غلامان |
| معبود | خدای، هغه څوك یا څیز چي خلګ یې عبادت کوي |
| مقیم | هغه څوك چي مسافر نه وي، په خپل وطن کي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| معنی | کلمه |
|---|---|
| شا | ملا |
| ټاپه | مُهر |
| ګاډی | موټر |
| پیدا کول | موندل |
| پریولي، پریمینځي | مینځي |
| ورئغستل، منډه وهل | وردانګل |
| دلاس تلی | وُرغوی |
| پټون، ښانګه | ورون |
| قدرت، توان | وسعه |
| وبلل | وګڼل |
| وریښتان | ویښتان |
| یو چند | یو برابر |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دموضوعاتو فهرست

سریزه ............................................ ۳
لومړنی خبري ........................................ ۵
لومړی رکن: ددې کلمې ویل (لا إله إلا الله محمد رسول الله): ...... ۶
دوهم او دریم رکن: لمونځ کول، او زکات ورکول:............ ۱۴
څلورم رکن: د رمضان دمیاشتي روژه:.................... ۱۶
پنځم رکـن: حـج کـول دهغـه چـا لـپاره چـي د تلـو راتلـو
طاقت* او قدرت یي ولري: .............................. ۱۷
دلمانځه اهمیت* ........................................ ۱۸
طهارت یا دلمانځه لپاره پاکوالی ........................ ۲۶
تیمم وهل............................................. ۲۸
فرض لمونځونه ........................................ ۳۰
دلمانځه اداء کولو طریقه................................ ۳۲
د جماعت* لمونځ........................................ ۴۳
دجُمعې لمونځ........................................... ۴۵
دمسافر لمونځ.......................................... ۴۹
لومړی: دلمانځه لنډول (قصر کول):....................... ۴۹
دوهم: ددوو لمونځونو یوځای کول: ....................... ۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دلمانځه نه وروسته) مسنونه اذکار (او دعاګاني)............ ٥٢
دفرضو سره سنت لمونځونه (سنت راتبه)...................... ٥٥
دمؤلف لنډه پیژندنه........................................ ٥٧
دلهجې داختلاف په صورت کې یوه معنی لرونکې
کلمات.............................................................. ٥٨
چې په کتاب کې راغلي دي................................... ٥٨
دموضوعاتو فهرست........................................ ٦٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تعليم الصلاة

تأليف

د. عبد الله بن أحمد الزيد

ترجمة

عبد الناصر زلال

باللغة «البشتو»

(c) ketabton.com: The Digital Library

إدارة أوقاف
صالح عبدالعزيز الراجحي

# تعليم الصلاة

تأليف

د. عبدالله بن أحمد الزيد

ترجمة

عبدالنافع زلال

باللغة «البشتو»

مطبعة دار طيبة ـ الرياض ـ ت: ٤٢٨٣٨٤٠

GIFT NOT FOR SALE

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**